# د یوحنا رسول درېم لیک

## د کتاب پېژندنه

د یوحنا رسول درېم لیک هم په هماغه وخت کې چې د هغه اول او دوهم لیکونه لیکل شوي وو، د غایوس په نوم د کلیسا مشر ته لیکل شوی دی. یوحنا د غایوس قدرداني کوي، ځکه چې هغه د مېلمنو مسیحیانو سره مرسته کړې ده. همدارنګه هغه د دیوترفیس په هکله چې د مذهبي ټولنې یو ځان ښوونکی مشر دی، خبرداری ورکوي ځکه هغه د هغو مسیحیانو سره مخالفت کوي.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱: ۱ – ۴

همکاري او مخالفت: ۱: ۵ – ۱۲

وروستنۍ خبرې: ۱: ۱۳ – ۱۵

## سلامونه

۱ د کلیسا د مشر له خوا ګران غایوس ته چې په رښتیا راباندې ګران دی. ۲ زما ګرانه
ملګریه! زه دعا کوم چې په هر کار کې بریالی اوسې او لکه څنګه چې په روحاني توګه روغ او جوړ
یې، نو همداسې په جسماني توګه هم واوسې. ۳ کله چې ځینې ورونه راغلل او ماته یې ستا د
وفادارۍ په هکله شاهدي راکړه او دا چې ته تل په رښتینې لاره ژوند تېروې، نو ډېر خوشحاله
شوم. ۴ د دې نه زیاته خوشحالي ماته په بل هېڅ شي کې نشته چې کله واورم چې زما اولادونه
په رښتینې لاره روان دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د غایوس همکاري او د دیوترفیس مخالفت

۵ ګرانه دوسته! ته په هغه خدمت کې چې دې مسیحیانو ته يې کوې ډېر وفادار يې، که څه هم
ته هغوی نه پېژنې. ۶ هغوی د دې ځای کلیسا ته وویل چې د هغوی سره څومره مینه کوې.
مهرباني وکړه د هغوی سره په سفر کې داسې مرسته وکړه لکه د هغو خلکو په شان چې د خدای
خدمت کوي. ۷ ځکه چې هغوی مسیح ته د خدمت کولو په خاطر په سفر روان شول او د
بې‌دینه خلکو نه يې هېڅ مرسته ونه غوښتله. ۸ نو مونږ باید د داسې خلکو سره مرسته وکړو او
د حقیقت په خپرولو کې د هغوی سره ملګري شو.

۹ ما ستاسو کلیسا ته یو لیک ولېږه، خو دیوترفیس چې خپل ځان د نورو څخه لوړ ښايي، زما
خبرې نه مني. ۱۰ که زه درغلم، نو د هغو کارونو په هکله چې هغه يې کوي او زمونږ په هکله
بېځایه او بدې خبرې کوي، خبرې وکړم. هغه لا په دې هم قناعت نه کوي، بلکې مېلمنو مسیحیانو
ته د هرکلي ویلو نه هم انکار کوي او نور هم نه پرېږدي چې هغوی ته هرکلی ووايي او د هغوی
مرسته کوونکي د کلیسا څخه شړي.

۱۱ زما ګرانه دوسته، د بدۍ پیروي مه کوه، بلکې د نېکۍ پیروي کوه. کوم خلک چې نېک کارونه
کوي، هغوی د خدای اولادونه دي او څوک چې بد کارونه کوي، هغوی هېڅکله هم خدای نه دی
لیدلی. ۱۲ ټول خلک د دیمیتریوس په هکله ښه شاهدي ورکوي او حقیقت همدا دی. مونږ هم د
هغه په هکله ښه شاهدي ورکوو او ته پوهېږې چې زمونږ شاهدي رښتیا ده.

## وروستنۍ خبرې

۱۳ زما سره ډېرې خبرې شته چې غواړم تاته يې وکړم، خو زه نه غواړم چې تاته هغه په قلم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې ولیکم. ۱۴ زه هیله لرم چې ډېر زر دې ووینم او مخامخ در سره خبرې وکړم.

۱۵ سلامتي دې وي په تا باندې. ټول دوستان دې درباندې سلامونه وايي، زمونږ هر یو دوست ته
سلامونه ووایه.